# د امام ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حسن سلوک

پښتو








شیخ طریقت، امیرِ اہلسنت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

دا مضمون د ”غیبت کی تباہ کاریاں“ صفحه 300 تا 317 نه اخستے شوے دے۔

# د امام ابو حنیفه حُسنِ سلوک

دُعائے عطار: یاربَّ المُصطفٰی! چې څوک هم دا رساله ”د امام ابوحنیفه حُسنِ سُلوک“ اولولي یا ئې واوري هغه ته د امام اعظم ابوحنیفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په برکت د ژبې صحیح استعمالولو او د غیبت او چغلئ نه د بچ کیدلو توفیق ورنصیب کړې او بےحسابه بخښنه ئې نصیب کړې۔
اٰمین بِجاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د نبي کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په ما باندې سل ځله درود شریف اولوَستلو الله پاک د هغه د دواړو سترګو په مینځ کښې اولیکي چې دا د نفاق او د جهنم د اور نه آزاد دے او دا به په ورځ د قیامت د شُهداء سره وي۔(مجمع الزوائد،10/235، حدیث:17298)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب　　　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (1) د دوو غیبت کوونکو حکایت

د حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه روایت دے، د الله پاک په عطا سره د غیب خبر ورکوونکي خوږ پیغمبر صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه ورځ صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُم ته د روژے نیولو حکم اوفرمائیلو او ارشاد ئې اوفرمائیل: تر څو چې زه اجازت اونکړم، تاسو کښې یو کس هم روژه مه ماتوئ۔ خلقو روژه اونیوله۔ کله چې ماښام شو نو ټول صحابه یو یو د نبي کریم

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضريدل او عرض ئې کولو: يارسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه نن روژه ووم، اوس ما ته اجازت اوفرمائے چې زه روژه ما ته کړم- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه ته اجازت ورکړو- يو صحابي حاضر شو او عرض ئې اوکړو: زما آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دوو زنانؤ هم روژه نيولې وه او هغوئې ستاسو په دربار کښې راتللو نه حيا محسوسوي، هغوئې ته اجازت اوفرمائې چې هغوئې هم روژه ما ته کړي- د **الله** پاک آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئې نه مخ واړولو، هغوئې بيا عرض اوکړو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه بيا خپل مخ مبارک واړولو- هغوئې بيا هم دغه خبره اوکړه، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه بيا مخ مبارک واړولو، هغوئې بيا هم دا خبره اوکړه، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه بيا مخ مبارک واړولو، بيا غيب دان نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (دغيبو خبر ورکړو) او ارشاد ئې اوفرمائيل: "هغوئې دواړو روژه نه ده نيولې هغوئې څنګه روژه دارې دي هغوئې خو ټوله ورځ د خلقو غوښې خوړلې! لاړ شه، هغه دواړو ته حکم اوکړه که هغوئې روژه دارې وي نو اُلټئ يعني قے دِ اوکړي-" هغه صحابي د هغوئې خواه ته تشريف يوړلو او هغوئې ته ئې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک واورولو- هغوئې دواړو التئ اوکړې، نو په اُلټو کښې پرم شوي وينه راوُوَتله- هغه صحابي د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شو او صورتِ حال ئې عرض کړو- مدني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: په هغه ذات مې دِ قسم وي! د چا په قبضۀ قُدرت کښې چې زما ساه ده، که دا د هغوئې په خيټو کښې باقي پاتې شوے وے نو هغه دواړه به اور خوړلې وے- (ځکه چې هغوئې غيبت کړے وو) (ذم الغيبة لابن ابي الدنيا، ص72، رقم: 31)

په يو بل روايت کښې دي چې کله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه صحابي نه مخ واړولو نو هغه [د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] مخې ته راغلے او عرض ئې اوکړو: يارسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه دواړه د تندې د سختې نه مرګ ته نزدے دي- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم اوفرمائيلو: هغه دواړه زما خواه ته راوله- هغوئې دواړه حاضرې شوې- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

وَسَلَّم یوه پیاله رااوغوښتله او د هغوئي نه ئي یوې ته حکم اوفرمائیلو: چې په دې کښې قے اوکړه! هغې د وینې، نَو او د غوښې قے اوکړې، تر دې پورې چې نیمه پیاله ډکه شوه بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوئیمې ته حکم اوفرمائیلو چې ته هم په دې کښې قے اوکړه! هغې هم دغه شان قے اوکړې، تر دې پورې چې پیاله ډکه شوه د **الله** پاک خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیل: دې دواړو د **الله** پاک د حلال کړے شوو څیزونو (یعني خوړلو، څښلو وغیره) نه خو روژه نیولي وه- خو چې کوم څیزونه **الله** پاک حرام کړي دي په (هغه) څیزونو ئې روژه ما ته کړه! اوشوه څه داسې چې یوه زنانه د بلې زنانه سره کښیناسته او دواړو د خلقو غوښې خوړل (یعني غیبت) شروع کړو- (مسند امام، 9/125، حدیث: 23714)

## علمِ غیبِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے عاشقانِ رسول! د دې حکایت نه ښه ښکاره معلومه شوه چې د **الله** پاک په عطا سره زمونږ خوږ آقاء، مکي مدني مصطفٰي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته علمِ غیب حاصل دے او آقائے کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپلو غلامانو ټول معاملات معلومیږي- ځکه خو ئې د هغه زنانؤ په باره کښې جمات کښې په ناسته ناسته د غیبو خبر ارشاد اوفرمائیل- د دې حکایت نه دا هم معلومه شوه چې د غیبت او نورو ګناهونو ارتکاب کولو اثر براهِ راست په روژه باندې هم پریوځي چې د هغې په وجه د روژے تکلیفونه ډیر ناقابلِ برداشت کیدے شي- بهرحال که روژه وي او که نه، ژبه قابو کښې ساتل پکار دي ګني دا داسې ګلونه دوړوي چې توبه!

سرورِ دیں لیجے اپنے نا تُوانوں کی خبر　　نفس و شیطاں سیّدا! کب تک دباتے جائیں گے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (2) غیبت نه د بچ کیدلو ښکلے انداز

حضرت سُفیان بن حُسین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي- چې زه د سَیِّدُنا ایاس بن معاویه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره

ناست ووم، په دې کښې يو کس نزدے تير شو، ما د هغه بدې بيانول شروع کړل، هغوئي اووئيل: خاموش! بيا ئې اوفرمائيل: سفيانه! آيا تا د روميانو او ترکيانو خلاف جنګ کړے دے؟ ما اووئيل: نه- هغوئي اووئيل: تُرکيان او روميان خو ستا نه بچ شو خو يو مسلمان ورور ستا نه محفوظه پاتې نه شو- (يعني ليدلو سره تا د هغه غيبت شروع کړو!) حضرت سفيان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي: (زما زړۀ ګُزار اوخوړلو) د هغې نه پس ما کله هم د چا غيبت او بےعزتي نه ده بيان کړې- (تنبيه الغافلين، ص88) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمين بِجاهِ النّبيِّ الْاَمين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اے عاشقانِ رسول! کله چې هم زمونږ په وړاندې څوک د چا غيبت وغيره کوي نو په ممکنه صورت کښې هغوئي پوهه کول پکار دي ځکه چې پوهه کول فضول نه وي- ربِّ کائنات په پاره 27 سُوۡرَۃُالذّٰرِيٰت آيت نمبر55 کښې ارشاد فرمائي:

وَّ ذَکِّرۡ فَاِنَّ الذِّکۡرٰی تَنۡفَعُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۵۵﴾
(پ27، الذّٰرِيٰت:55)

ترجمه: او پوهه کوه ئې ځکه چې پوهه کول مسلمانانو ته فائده ورکوي-

عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی گناہوں سے مجھ کو بچایا الٰہی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (3) مالوچو والا خيانت اوکړو!

يو نيک کس د خپلې ښځې د پاره مالوچ واخستل- کله چې کور ته اورسيدو نو هغې اووئيل چې مالوچو خرخولو والا خيانت (تېګي) کړې ده- هغه کس فوراً خپلې ښځې له طلاق ورکړو! د هغه کس نه چې کله د دې خبرې د سبب په باره کښې تپوس اوکړے شو نو هغه اُووئيل: زه يو غيرت مند انسان يم، ما ته دا خدشه اوشوه چې په ورځ د قيامت که د مالوچو والا د دې غيبت (او تهمت) په وجه د دې نه د خپل حق طلبګار شي نو هسې نه چې اهلِ محشر داسې

اووائي چې اوکورئ! د فلانکي ښځې نه مالوچو والا خپل حق غواړي! ځکه نه ما خپلې ښځې له طلاق ورکړو! (تنبيه الغافلين، ص89)

## د تاجرانو د غيبت 17 مثالونه

اے عاشقانِ رسول! د يو قوم يا محکمے غيبت کول مثلاً داسې وئيل: پوليس والا رشوت خوارۀ وي-" دا د ګناه والا غيبت نه دے ځکه چې محکمه پوليس يا قوم يا ګروپ کښې دننه ښه او بد دواړه قسمه خلق وي خو که د يو قوم يا محکمۀ پوليس د هر هر کس بدي بيانول مقصود وي نو بيا ضرور [د ګناه والا] غيبت دے.

مذکوره حکايت کښې خو د يو خاص مالوچو والا نه، بلکه مطلقاً د "مالوچو والا" ذکر دے- په دې لحاظ سره خو دا غيبت نه شو خو کيدے شي چې په هغه کلي کښې د مالوچو دوه يا درې دکانونه وو او هغه ښځې چې د غيبت نه ډکې خبرې اوکړې نو د هغې د سياق و سباق نه هغه نيک کس هم دا مراد اخستے وي چې هغه زمونږ د ځائے هر يو مالوچو والا ته خائن او ټګ وائي لهذا د خوفِ قيامت په سبب ئې فوراً طلاق ورکړو-

بهرحال د دې حکايت نه دِ هغه خلق عبرت حاصل کړي څوک چې بغير د څه مصلحتِ شرعي په خبره خبره د تاجرانو د غِيبت او تُهمت مُتَعَلِّق بغير د تکلف نه داسې جملے وائي: ▪ دۀ راسره ټګي اوکړه ▪ ټګ دے ▪ ګاهکونه لوټ کوي ▪ ګټه زياته اخلي ▪ د دۀ مال د ټولو نه زيات ګران وي ▪ دوکه باز دے ▪ ملاوټ کوي ▪ په تول کښې ګړ بړ کوي ▪ په نَرمو خوږو خبرو ګاهک ګيروي ▪ دومره لالچي دے چې د ټولو نه آخره کښې دوکان بندوي ▪ کپړا چې ناپ کوي نو راښکاږي ئې ▪ که قرض مال واخلي نو بيا ئې د واپس ورکولو نوم نه اخلي ▪ د دۀ نه قرض وصولول آسان کار نه دے ▪ [د قرض په وصولئ وغيره کښې] سرې له څو څو چکرې ورکوي ▪ سُود خور دے ▪ پته نه لګي چې د څومره کسانو پيسے ئې خوړلې دي ▪ په دروغو قسمونه کوي-

دے رزقِ حلال از پئے غوثِ اعظم حرام مال سے تو بچا یا الٰہی
ہو اَخلاق اچّھا ہو کردار سُتھرا مجھے مُتّقی تُو بنا یا الٰہی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ملازمينو د غيبت اتلّس مثالونه

د ملازمانو په باره کښې بغير د مصلحتِ شرعي نه ويونکې د ګناهونو ډکې خبرې او جملے سره د مثالونو ▪ په کار کښې غَل دے ▪ سُست دے ▪ ناراسته دے ▪ ډيرې چوټيانې کوي ▪ حرام خور دے ▪ دوکان کښې غلا کوي ▪ چې کار پسې ئې اوليږې نو ډير وخت ضائع کوي ▪ کله چې ګورې په فون لګيا وي ▪ په هره خبره پورې خُله مرې ▪ په خبره خبره خفه کيږي ▪ګاهک صحيح نه شي "ډِيل" کولے ▪ شوده ▪ بےوقوفه ▪ کم عقل دے ▪ د دهٔ نخرے ډيرې شوي دي ▪ يو خو ناوخته راځي او ▪ واپس زر ځي ▪ دوکان نه غلا شوي ده زما په فلانکي نوکر باندې شک دے-

## د دوکاندارانو په خپلو کښې د غيبت لس مثالونه

اے عاشقانِ رسول! په کاروبار کښې ښکته بره راځي، د احاديثِ مبارکه نه معلوميږي چې د ګناهونو په باعث بےبرکتي راځي- مسلمان له پکار دي که چرته بےبرکتي راشي يا دَندَه کښې کمے راشي نو د خپلو اعمالو محاسبه دِ کوي خو بعضې خلق په دې موقع د شيطان په دوکه کښې راشي او بدګمانيانې ، غيبتونه ، او تهمتونه شروع کړي او څه داسې وائي: ▪ داسې ښکاري چې فلانکے زما ترقّي ليدل نه غواړي ▪ زما ګاهک خرابوي ▪ قصداً دام کم وائي او زما ګاهک خرابوي ▪ پخپله د ملاوټ مال خرڅوي او ▪ زما نه ګاهک بدظنه کولو د پاره زما خيزونو ته د ملاوټ والا وائي ▪ په بدمعاشئ ئې زما د دوکان مخې ته ريړئ لګولي ده ▪ دے غواړي چې بس زه په څه طريقه دا دوکان پريږدم ▪ هغه داسې د نظره کړے يم چې ګاهک مې

خواه ته هم نه راځي ▪ هغه مخامخ دوکاندار ته چې کله اُوکوري تسبيح ئې په لاس کښې نيولي وي څه پرې لوَلي او زمونږ دوکان طرف ته ئې پُوک کوي ▪ هغه بله ورځ خو ئې باقاعده مُصلّٰي خوره کړې وه او لمُونځونه ئې کول او يو دوه ځله خو ئې زمونږ دوکان طرف ته هم اوکتل که هر څه وي خو د جادو په زور ئې زمونږ کاروبار بند کړے دے! **اے عاشقان رسول!** دا خبره ياده ساتئ چې د ذِکر و اَذکار، لمُونځونو او پاکو کلامونو په ذريعه جادو نه کيږي لهٰذا د يو مسلمان په باره کښې د بدګمانئ ، غيبتونو او تهمتونو په ګناه کښې مه پريوځئ، خپل نظر په **الله** پاک ساتئ-

حقُوقُ العباد! آه! ہو گا مرا کیا! کرم مجھ پہ کر دے کرم یا الٰہی
بڑی کوششیں کی گنہ چھوڑنے کی رہے آہ! ناکام ہم یاالٰہی
(وسائلِ بخشش،ص110)

## (4)د وسلے په زور موبائل فون اخستلو والا ځلمے

د غيبت کولو اوريدلو عادت ختمولو او د لمُونځونو او سنتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي دِيني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، د سنتو زده کولو او ښودلو د پاره مدني قافله کښې عاشقان رسول سره د سنّتو ډک سفر کوئ او کامیابه ژوند تيرولو د پاره او آخرت ښه کولو د پاره د "**نیک اعمال**" مطابق عمل کوئ او روزانه [د خپلو اعمالو] د جائزے په ذريعه رساله [کښې خانے] ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې خپل ذمه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ- سنت زده کولو او ښودلو د پاره مدني قافلو کښې ښه په شوق سفر کوئ، ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے پيش کيږي،

ضرورتاً پکښې د جملو برابري شوي ده، چنانچه د لياري (کراچئ) يو اسلامي ورور د دعوت اسلامي ديني ماحول سره وابسته کيدلو نه مخکښې شرابي وو، بے لمَانځه وو، غلاګانې به ئې کولې او د وسلے په زور به ئې د خلقو نه موبائل فون اخستلو، نور هم ډيرو بدو عادتونو

کښې مبتلا وو، هغوئي د خپل ژوند خلور کاله هم په دې کارونو کښې تير کړي وو، بيا يو اسلامي ورور په مدني قافله کښې د سفر کولو ترغيب ورکړو او هغه د يوے مياشتې د پاره د مدني قافلے مسافر جوړ شو، مدني قافله کښې هغه ته ډير راحت و سکون نصيب شو، هغه د ګناهونو نه پخه توبه اوکړه، بيا د الله پاک په کرم سره هغه ته د فيضان مدينه (کراچي) کښې د تربيتي کورس کولو سعادت هم نصيب شو-

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں　　اے دعوتِ اسلامی تِری دھوم مچی ہو

## د نيکئ دعوت عام کولو جذبه

اے عاشقان رسول! تاسو اوکتل! د مدني قافلو څومره ښکلي سپرلي وي! د مدني قافلے په برکت د نيک جوړيدلو سعادت هُم نصيب کيږي او ورسره ورسره د نيکئ د دعوت عام کولو جذبه هم نصيب کيږي او د نيکئ دعوت عام کولو کښې خو ډير ډير ثوابونه دي په دې باره کښې څلور احاديثِ مبارکه پيش کيږي:

## څلور فرامِينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(1) د نيکئ لار ښودونکے د نيکئ کوونکي په شان دے- (ترمذی،4/305،حدیث:2679)

(2) که الله پاک ستا په ذريعه کوم يو کس ته هدايت نصيب کړي نو دا ستا د پاره د دې نه غوَره ده چې تا سره سرۀ اوښان وي- (مسلم،ص1311 حدیث:2406)

(3) بےشکه الله پاک، د هغه فرشتے، د آسمان او د زمکې مخلوق تر دې پورې چې ميږي په خپلو سُوړو کښې او مَهيان (په اوبو کښې) خلقو ته نيکئ ښودونکو والا باندې "صلوٰة" ليږي- (ترمذی،4/314،حدیث:2694) حکيم الامت حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د الله پاک د "صلوٰة" نه د الله پاک خاص رحمت او د مخلوق د"صلوٰة" نه خصوصي دعائے رحمت مراد ده- (مراٰۃالمناجیح،1/200)

(4) بهترینه صدقه دا ده چې مسلمان سړے علم حاصل کړي او بیا ئې خپل مسلمان ورور ته زده کړي- (ابن ماجه،1/158، حدیث:243)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (5)د امام اعظم خپل ګستاخ سره حسنِ سلوک

حضرت امام اعظم ابو حنیفه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د مِنٰې شریف مسجدُ الخیف کښې تشریف فرما وو، چې یو کس راغے او د مسئلے تپوس ئې ترینه اوکړو هغوئې جواب ورکړو- بیا چا اووئیل چې دا د حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د جواب بالکل خلاف دے- ارشاد ئې اوفرمائیل: په دې مسئله کښې حسنِ بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اجتهادي خطا کړي ده- بیا یو کس راغے هغه خپل مخ پټ کړے وو، هغه امام اعظم صاحب ته کنزلې اوکړې او اوئې وئیل: ته حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته خطا کار وائې- خو د هغوئې د قوتِ برداشت عالم دا وو چې په مخ ئې د غصے څه آثار هُم ښکاره نه شو- حاضرین غصه کښې شول او د هغه ګستاخ وهلو د پاره پاڅیدل، امام اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خلق واپس کښینول او هغه کس ته ئې اوفرمائیل: "حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه اجتهادي خطا شوي ده او حضرت ابن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ چې په دې باب کښې کوم روایت کړے دے هغه صحیح دے-" (المناقب للموفق،9/2) د الله پاک دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمین بِجاهِ النّبیِّ الْاَمین صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په غصه باندې د قابو کولو هم څه ښه فضائل دي

اے عاشقانِ اولیاء! تاسو اوکتل! د کروړاؤ حنفیانو د عظیم پیشوا حضرت امام اعظم امام ابو حنیفه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه صبر و تحمل! حالانکه که هغوئې غوښتلے نو خلقو به په وهلو وهلو د هغه کس نه خرمن ویستلې وے خو هغوئې داسې کولو نه خلق منع کړل- چې څوک خپله بےعزتي اووِیني نو فوراً غصه کیږي خو په داسې موقع غصه قابو کول او د هغې د فضائلو

حقدار جوړيدل پکار دي- د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب "بهارِ شريعت" حصّه 16 صَفحه 188تا 189 کښې دي: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې خپله ژبه محفوظ ساتي، الله (پاک) به د هغه پرده پوشي فرمائي او څوک چې خپله غصه قابو کړي، په ورځ د قيامت به الله (پاک) خپل عذاب د هغه نه حصار کړي او څوک چې الله (پاک) ته عذر اوکړي، الله (پاک) به د هغه عذر قبول کړي. (شعب الايمان 315/6، حديث:8311)

## آيا امام اعظم د حسن بصري غيبت اوکړو؟

مذکوره حکايت کښې امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې داسې اُووئيل چې: "هغوئي اجتهادي خطا کړې" نو دا هغوئي غيبت اوکړو خو دا جائز غيبت وو ځکه چې يو مفتيِ شرعي مسئله کښې خطا اوکړي نو بل مفتي د هغې رد کولے شي چنانچه د"بهارِ شريعت" په حصّه 16 صَفحَه 178نه تر 179 کښې دي: د حديث په راويانو او د مقدمے په ګواهان او په مصنفينو باندې جرح کول او د هغوئي عيب بيانول جائز دي که د راويانو عيبونه بيان نه کړے شي نو په حديثِ صحيح او غير صحيح کښې به فرق او امتياز څنګه کيږي- دغه شان که د مصنفينو حالات بيان نه کړے شي نو په معتمد او غير معتمد کتابونو (يعني قابلِ اعتماد او ناقابلِ اعتماد کتابونو) کښې به فرق نه کيږي- په ګواهانو که جرح اونکړے شي نو د حقوقِ مسلمين خيال به اُونه ساتلے شي-

حسد کی بیماری بڑھ چلی ہے لڑائی آپس میں ٹھن گئی ہے
شہا مسلمان ہوں مُنظّم، امام اعظم ابو حنیفہ
فضول گوئی کی نکلے عادت، ہو دُور بے جا ہنسی کی خصلت
دُرود پڑھتا رہوں میں ہر دم امامِ اعظم ابو حنیفہ

(وسائل بخشش، ص574،573)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب | صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
توبو الي الله! | استغفرالله
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب | صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## امام اعظم کله د دشمن غيبت هم نه دے کړے

يو ځل عبدالله ابن مبارک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه حضرت سفيان ثوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته اوو‌ئيل چې اَلْحَمْدُلِلّٰه "امام اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د غيبت نه ځان دومره ساتي چې ما کله د هغوئي نه د دشمن غيبت هم نه دے اوريدلے!-" (مرقاۃالمفاتيح،77/1)

## د زمکې د نيمو خلقو نه د امام اعظم عقل زيات

خوږو اسلامي ورونړو! د حضرت امام اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دعقلمندئ به څه وائې! يقيناً عقلمند هغه دے خوک چې د الله پاک او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په اطاعت کښې مشغول اوسي او خوک چې د مسلمانانو په غيبتونو کښې اخته اوسي او خپلې نيکئ بربادوي او د جهنم حقدار جوړيږي نو هغه بے وقوفه څه چې د بے وقوفانو سردار دے. د عاشقان رسول د ديني تحريک دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُالْمَدِينه د 649 صفحاتو کتاب "حِکايتيں اور نصيحتيں" په صفحه نمبر 332 کښې دي: حضرت علي بن عاصم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيل: که د نيمې زمکې د خلقو عقلونه د امام ابوحنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عقل سره موازنه کړے شي نو بيا به هم د امام ابوحنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عقل زيات وي- (تبيض الصحيفة فی مناقب الامام ابی حنيفة للسيوطی، ص128)

غيبتيں مت کيجئے پچھتائيں گے | گھپ اندھيری قبر ميں جب جائيں گے
سانپ بچھّو ديکھ کر چلائيں گے | بے بسی ہو گی نہ کچھ کر پائيں گے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (7)د قبر والا غيبت نه کوي

د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د 649 صفحاتو کتاب ”حِکايتيں اور نصيحتيں“ په صفحه نمبر 477 کښې دي: حضرت سري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”يو ځل زه قبرستان ته لاړم هلته ما حضرت بهلولِ دانا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوليدو چې د يو قبر خوا ته په خاورو کښې ارغږي! ما ترينه هلته د ناستې د سبب تپوس اوکړو نو جواب ئې راکړو: ”زه د داسې قوم سره يم چې ما ته تکليف نه شي راکولے او که زه د دې ځائے نه غائب شم نو زما غيبت نه کوي- (الروض الفائق،ص246) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمين بِجاهِ النّبيِّ الْاَمين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سُبْحٰنَ الله! د الله والؤ به څومره ښکلے مدني سوچ وو، واقعي په قبرستان کښې وخت تيرولو والا ته خپل مرګ ياد ساتلو سره سره د غيبت نه د بچ کيدلو سعادت هم حاصليږي، نه هغه د چا غيبت کوي او نه قبر والا د چا غيبت کوي-

موت کو مت بھولنا پچھتاؤ گے　　قبر میں اے عاصیو! جب جاؤ گے
سانپ بچھو دیکھ کر گھبراؤ گے　　بھاگ نہ ہرگز وہاں سے پاؤ گے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (8)زه به د لمُونځ نه تنبتيدلم

د غيبت کولو او اوريدلو عادت ختمولو او د لمُونځونو او سنتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي دِيني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، د سنتو زده کولو او ښودلو د پاره مدني قافله کښې د عاشقان رسول سره د سنّتو ډک سفر کوئ او کامياب ژوند تيرولو د پاره او آخرت ښه

کولو د پاره د ”نیک اعمال“ مطابق عمل کوئ او روزانه د [خپلو اعمالو د] جائزے په ذریعه رساله [کښې خانے] ډکوئ او د هرې میاشتې په یکم تاریخ ئې خپل ذمه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ- ستاسو د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے پیش کیږي، چنانچه، میلسي ضلع وِهاړي (پنجاب، پاکستان) کښې یو اسلامي ورور د بدو دوستانو په په دوستئ کښې اخته شو، هغه ملګرو به په هغه باندې چرس او شراب څښوَل، د شپې به ئې د مشر ورور سره په دوکان کښې کار کولو او د ورځې به ئې نشه کوله او لوفریانې به ئې کولې او یا به ټوله ورځ په کور کښې اُودۀ وو د شپې به چې کله د نشې په حالت کښې وو نو مور به ئې په ژړا ژړا پوهه کولو چې نشه پریږده او د هغه د نیک جوړیدلو دعاګانې به ئې کولې، والد صاحب به هم ورته د نشے کولو په وجه غصه کیدلو- د دعوت اسلامي د یو مبلغ دوکان د هغوئي د دوکان سره نزدے وو، هغه به ورته د لمُونځ دعوت ورکولو او ځان سره لـمانځه له جمات ته د بوتللو کوشش به ئې پرې کولو خو هغه به د لارې نه واپس راتښتیدلو- یو ځل هم هغه مبلغِ دعوت اسلامي د درې ورځو مدني قافله کښې د سفر د پاره د هغه ذهن جوړ کړو، هغه تیار شو، مبلغ هغه په ګاډي کښې کښینولو او فیضانِ مدینه ملتان شریف ته ئې روان کړو، هلته چې ئې د دعوت اسلامي هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښې شرکت اوکړو نو په زړۀ ئې ډیر ښه اثر اوشو، د هلته نه ئې مدني قافله کښې درې ورځې سفر اوکړو، د ګِیرې پریښودو نیت ئې اوکړو، په سر ئې عِمامه اوتړله او آئنده د پاره ئې د زړۀ د اخلاصه د بدو کارونو نه توبه کړه- کله چې د مدني قافلے نه واپس کور ته راغے نو د کور خلق ئې ډیر زیات خوشحاله شو- (توبه کولو نه) مخکښې د هغه په موبائل کښې ګانے او فلمونه وو- هغه ټول خرافات ئې ترینه ختم (Delete) کړل- د بدو دوستانو ملګرتیا ئې پریښوده- اول به ئې په رکشه کښې د ملګرو د پاره شرابو راوړلو د پاره تللو اوس په هم هغه رکشه کښې اسلامي ورونړه سوارۀ کړي او هفته واره د سنتو ډکې اجتماع له ئې فیضان مدینه (میلسي) ته بوځي- د نشے پریښودلو نه مخکښي به خلقو هغه ته نشئ وئیلو

اوس ورته دعوت اسلامي والا وائي، اوس ئې د کور خلق هم خوشحاله دي- (اَلْحَمْدُلِلّٰه) د دعوت اسلامي دِيني ماحول کښې راتللو سره هغه ته د ګناهونو نه د بچ کيدلو سعادت ملاوو شو، هره مياشت کښې مدني قافله کښې سفر کوونکے جوړ شو، يو کال کښې ئې ناظره قرآن مکمل کړه او د ذيلي حلقے د مشاورت نګران جوړيدلو سعاد هم ورنصيب شو-

تاسو اوليدو! د مدني قافلے برکت! د رَبُّ الْعِزَّت د عبادت نه لرې تختيدونکي په ژوند کښې څنګه د نيکو سپرلے راغے! اول به د لمونځونو نه پټيدو، تښتيدو، اوس د لمونځ دعوت ورکوونکے جوړ شو، هر مسلمان له لمونځ ادا کول پکار دي اِنْ شَآءَاللّٰه د لمونځ په برکت به ګناهونه هم پريږدي چنانچه الله کريم په 21 سورةُالعَنکَبُوت آيت نمبر 45 کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِؕ

ترجمه: بےشکه لمونځ منع کول کوي د بےحيائي او بدو کارونو نه-

## د نبي کريم ﷺ په اتباع کښې ئې وچه څانګه اوخوزَوَله

د لمونځ د فضيلت به څه وائې! چنانچه د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُالْمَدِينه د 743 صفحو کتاب، "جنّت ميں لے جانے والے اعمال" په صفحه 76 کښې دي: حضرت ابو عثمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې زه د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره د يوے وني لاندې ولاړ ووم چې هغوئي د هغې وني يوه وچه څانګه اونيوله او هغه ئې اوخنډله تر دې پورې چې د هغې نه پاڼې اوغورزيدلې بيا ئې اوفرمائيل: اے ابوعثمانه! آيا ته زما نه تپوس نه کوې چې ما داسې ولے اوکړل؟ ما ترينه تپوس اوکړو چې تاسو داسې ولے اوکړل؟ نو هغوئي اوفرمائيل: يو ځل زه د رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د يوے وني لاندې ولاړ ووم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم داسې اوکړل او د وني يوه وچه څانګه ئې اونيوله او اوئې څنډله تر دې پورې چې پاڼې ترينه پريوتې بيا ئې اوفرمائيل: اےسلمانه! آيا ته زما نه تپوس نه کوې

چې ما داسې عمل ولے اوکړو؟ ما عرض اوکړو: تاسو داسې ولے اوکړل: ارشاد ئې اوفرمائيل: بےشکه کله چې مسلمان په ښه طريقه اودس اوکړي او پينځه لمُونځونه ادا کړي نو د هغه ګناهونه داسې رژيږي لکه څنګه چې دا پاڼړې د ونې نه اورَژيدلې- بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آيت مبارکه تلاوت اوفرمائيلو:

وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَیِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّیۡلِ ؕ اِنَّ الۡحَسَنٰتِ یُذۡهِبۡنَ السَّیِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكۡرٰی لِلذّٰكِرِیۡنَ ﴿۱۱۴﴾

(پ12، هود:114)

ترجمه: او لمُونځ قائم کړئ د ورځې په دواړه طرفونو او څه د شپې په حصو کښې بےشکه نيکئ بدو لره ختموي دا نصيحت دے نصيحت منونکو ته-

(مسند امام احمد، 9/178، حديث:23768)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

توبو الي الله! استغفرالله

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (9) د غيبت په سبب په برزخ کښې قيد

د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي د مَكۡتَبَةُ الۡمَدِينه 300 صَفحاتو کتاب "آنسوؤں کا دريا" کښې دي: فقيه ابوالحسن علي بن فَرحون قُرطُبي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل کتاب "اَلزَّاهر" کښې فرمائي: ما په 555 سِنِ هجری کښې په "فاس ښار" کښې وفات شوے خپل ترۀ په خوب کښې اوليدو چې کور ته دننه ئې تشريف راوړو او ديوال سره ئې ډډه اووهله او کښيناستو، زه هم هغه ته مخامخ کښيناستم، ما چې د هغه بدل شوے رنګ اوليدو نو تپوس مې ترينه اوکړو: کاکا جانه! تاسو ته د رب کريم له طرفه څه ملاو شو، هغوئ اوفرمائيل:ځويه! مهربانه نه د مهربانئ نه سوا نورڅه ميلاويږي **الله** پاک د غيبت نه علاوه په هر څيز کښې ما سره نرمي

اوفرمائیله، زه د مرګ نه واخله تر اوسه پورې د غیبت په وجه په حراست (یعني قید) کښې یم، تر اوسه پورې زما دا ګناه معاف نه شوه، ځویه! زه تا ته نصیحت کووم چې د غیبت او چغلۍ نه ځان ساته ځکه چې ما په آخرت کښې د غیبت نه زیات په بل څیز باندې نیول نه دي لیدلي- دا ئې اووئیل او زما نه رخصت شو. (بحرالدموع،ص185)

گھُپ اندھیر ا ہی کیا وحشت کا بسیرا ہو گا قبر میں کیسے اکیلا میں رہوں گا یا رب!
گر کفن پھا ڑ کے سانپوں نے جمایا قبضہ ہائے بربادی! کہاں جا کے چھُپوں گا یا رب!
ڈنک مچھر کا بھی مجھ سے تو سہا جاتا نہیں قبر میں بچھّو کے ڈنک کیسے سہوں گا یا رب!
گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی ہائے ! میں نا رِ جہنّم میں جلوں گا یا رب!
عَفو کر اور سد ا کے لئے راضی ہو جا گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یا رب!
(وسائل بخشش،ص84،85)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (10) د هیجړا په مینه کښې د ګیریدلو وجه

اے عاشقان رسول! تاسو اوکتل! غیبت د مرګ نه پس سخت ګیر کړے وو! غیبت، **چُغلي**، بدګماني وغیره داسې نامراده آفات دي چې بعضې وخت انسان په ژوند کښې د عبادت نه دومره لرې کړي چې د ګناهونو په تنُور کښې ئې وَرواچوي، چنانچه شیخ ابوالقاسم قُشیري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه نقل کوي چې شیخ ابو جعفر بلخي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: زمونږ په بلخ کښې یو ځلمے وو- هسې خو به هغه عبادت و ریاضت ښه ډیر کولو خو د غیبت په آفت کښې به مبتلا وو اکثر به ئې وئیل: فلانکے داسې دے فلانکے هغسې دے- یوه ورځ ما هغه اولیدلو چې د خلقو کپړے وینځلو والا هیجړاګانو د ځائے نه را اُوتو، ما د هغه نه سبب معلوم کړو، اوئې وئیل: دا خلقو ته د بد رد وئیلو یعني د غیبتونو کولو سزا ده چې زه په داسې حال کښې اخته کړے شوے یم، افسوس! زه په دوئي کښې د یو مُخَنّث(یعني هیجړا) په مینه کښې مبتلا شوے یم، د

هغه مُخنّث د مينې په وجه زه د دې دوبيانو هيجړاګانو خدمت کووم او د ربِّ ذُوالجلال له طرفه چې ما ته کوم باطني احوال حاصل وو هغه ټول ختم شو- لِـهذا تاسو د الله پاک په بارګاه کښې دعا اوکړئ چې په ما باندې رحم اوفرمائي. (رساله قشيريه، ص196)

## چرته غيبت خو نه ئې ډوب کړے!

خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! د غيبت تباهئ يو عبادت و رياضت کوونکے د هيجړا په عشق کښې مبتلا کړو! د غيبت د سپيره والي په وجه هغه د عبادت د خوند نه هم محرومه شو- دلته دِ هغه اسلامي ورونړه غور اوکړي د چا به چې مخکښې د سُنّتو ډکو بيانونو، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونو، ذکر الله او دعاګانو کښې ډير ښه زړۀ لګيدلو- خو اوس داسې نه ده بلکه هر وخت د ګناهونو طرف ته مائله اوسي، هغوئي چرته د غيبت آفت خو نه دي ډوب کړي! په رښتيني توبه اوکړئ ولے چې د الله رَبُّ الْعِزَّت رحمت ډير لوئے دے-

گناہوں نے میری کمر توڑ ڈالی مرا حشر میں ہوگا کیا یاالٰہی
یہ دل نیکیوں میں نہیں لگ رہا ہے عبادت کا دے دے مزا یاالٰہی
مجھے بخش دے بے سبب یا الٰہی
نہ کرنا کبھی بھی غضب یا اِلٰہی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيَّتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په پکښم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com